بسم الله الرحمن الرحیم

# په کپیټلېزم کې اقتصادي وده، خلکو ته د خدمت په مانا نه ده

## خبر

په دې وروستیو کې نړیوال بانک د تانزانیا اقتصاد له ۷ نورو هېوادونو سره مقایسه کړی او دغه هېواد د منځنۍ عاید په ټیټ نمبر هېوادونو کې راغلی، په داسې حال کې چې په ۲۰۱۹م کې دغه دری نور هېوادونه په خپل اقتصاد کې شاته پاتې وو.

## تبصره

د نړیوال بانک د راپور پر اساس، یاد هېوادونه د دې لپاره بررسي شوي چې د منځني عاید ټیټ ګروپ لپاره برابر شي، ځکه چې د یادو هېوادونو ملي ناخالص عاید په ۲۰۱۸م کې ۱۰۲۰ډالرو څخه، په ۲۰۱۹م کې ۱۰۸۰ ډالرو ته لوړ شوي وو.

نړیوال بانک د عاید له مخې د نړۍ اقتصاد په څلورو ډلو وېشلی: لومړی؛ ټیټ، دویم؛ منځنی، درېیم؛ لوړ منځنی او څلورم یې د لوړ عاید لرونکي هېوادونه دي. دغه وېشنه هر کال د جولای په لومړۍ نېټه ترسره کېږي او د ناخالصو ملي عایدو پر اساس ترسره کېږي. د یوه هېواد د یوه کال د ټولو تولیداتو او خدمتونو مالي ارزښت او پر ټول نفوس وېشلو ته ناخالص ملي عاید ویل کېږي.

دغه ملي ناخالص عاید چې د نړیوال بانک په وسیله د اقتصاد د ودې معلوملو لپاره کارول کېږي واقعي نه دي، ځکه چې په دې کې ټولې لاسته راغلې پیسې شاملې دي. کله چې دا په نفوس باندې ووېشلې شي او په عموم کې د هر نفر عاید په غیر منصفانه ډول وېشل کېږي، په اصل کې حقیقت بل دی، ځکه نو د هېواد خلک په خپل ژوند کې مثبت بدلون نه ویني.

د اقتصاد دا ډول رشد یو خیال دی، د یوه ترلي هېواد اقتصاد به څنګه پرمختګ وکړي؟ د تانزانیا ملي قرض د ۲۰۱۸م په اپرېل کې ۴۹،۸٦ تریلیونه چې د ۲۰۱۹م په اپرېل کې ۵۱،۰۳ ترېلونو ته لوړ او په ۲۰۲۰م کې ۵۵،۴۳ تریلیونو ته ورسېد. ځکه نو دغه څرګندونې یو خیال او فرېب خوړل دي.

سربېره پردې تانزانيا پراخې زراعتي ځمکې لري، ډېرې ساده سرچينې، چې تقريبا ٦٠ ميليونو ته رسېږي د دې تر څنګ د اوبو لويې سرچينې لري، لکه د ويکتوريا جهيل چې د نړۍ له لويو جهيلونو څخه شمېرل کېږي او تقريبا ٦٥،٥٨٣ متر مربع ځمکه ترې لاندې ده. په دغو کې يوازې تانزانيا ۴۹٪ سهم لري او ۳۳،۷۰۰ کيلو متر مربع ځمکه کېږي، همدارنګه دغه ځمکې د هند د جهيل په واسطه هم احاطه شوي، چې د دواړو موخو لپاره هم د خواړو د توليد او هم د پيسو د لاسته راوړلو لپاره ورڅخه ګټه اخيستل کېدای شي. همدارنګه په پراخه کچه د ګازو زېرمې هم لري.

په پراخه کچه د معدنونو زېرمې لري، په ځانګړي ډول د طلا ذخيرې يې، په افريقا کې له غانا او جنوبي افريقا څخه وروسته درېيم مقام لري. د تانزانيا له ازادۍ اخيستو وروسته له يوې پېړۍ څخه زيات وخت کېږي، چې تانزانيا له فقر څخه کړېږي. په داسې حال کې چې د ياد هېواد ۷۵٪ خلک د خپل ژوند د دوام لپاره په زراعت کې بوخت دي، خو دغه بخش له ۲۰۱۵ م څخه تر ۲۰۱۷م پورې له ۳،۲٪ څخه ۱،۳٪ ته رالوېدلی دی.

اسلامي اقتصادي سيستم له کپيټليستي اقتصادي سيستم سره پوره توپير لري. په کپيټلېزم کې د اقتصادي ودې تاثيرات په ډېرو کمو تجارانو باندې وي، ځکه چې د کپيټلېزم په پاليسيو کې فرد په نظر کې نيول کېږي، چې د اسلام له نظره سرچينې سره ګډې دي او د ټولو خلکو د ارامتيا لپاره کارول کېږي ځکه په اسلام کې د شخصي ګرايۍ او ملي ګرايۍ پر ځای ټول خلک په نظر کې نيول کېږي.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**ليکوال: سيد بايټوموا ـ په تانزانيا کې د حزب التحرير د مطبوعاتي دفتر غړی**

**۱۴۴۱هـ.ق د ذوالحجې ۲۸مه**

**۲۰۲۰م د اګېسټ ۱۸مه**

**فېسبوکي جمله**: په کپيټلېزم کې اقتصادي وده د خلکو د خدمت په مانا نه، بلکې د څو چارواکو او تجارانو د پړسولو په مانا ده